| Political | سیاسی |
|---|---|

**یادداشت:**

*پورتال "افغانستان آزاد – آزاد افغانستان" بر مبنای اصل احترام به پرنسیب های دموکراتیک و آزادی مطبوعات، مضامین هموطنان را منتشر می سازد به شرط اینکه با روحیۀ نشراتی پورتال در تضاد نباشد. با وجودیکه پورتال با بعضی از نظرات سیاسی آقای سعیدی موافق نیست، اما مضمون ایشان را بدون تصرف به دید هم میهنان میگذارد. ارزیابی و نتیجه گیری از تحلیل سیاسی آقای سعیدی به ارتباط اوضاع کشور را با حفظ حق تبصره برای پورتال، به هموطنان واگذار میشویم.*

*اداره پورتال AA-AA*


داکتر صلاح الدین سعیدی(سعیدی-افغانی)

۰٦ اپریل ۲۰۱۱

## په افغانستان کې حالات، کړکیچونه او د حل ممکني لارې!

### دافغان ستراتیژیک څیرنیز مرکز دعلمي  شورا ترنظر لاندی

مونږ  په کلکه په دی باور یو  چې هرسیاسی تحلیل، د کړکیچونو شمیرل او د حل لیاری لټول د تحلیل او مطروحه مسایلو د ریښتینو مفرداتو نه په عینی ډول د استفادی او لیدنی نه پرته ممکن او سم کار نه دی.

د کړکیچو نو نه د وتلو او حل نسخی باید د واقعیتونو پر بنا او د ریښتینو امکاناتو پر اصولو ولاړی وی. داسی د حل لاری چې ټولو خواو، منطق او سلیم انسانی عقل ته د منلو وړ وی.

مونږ په دی باور یو چې عمده اصول او لاری تر زیاته حده روښانه دی دی. هو زمونږ هدف علمی او عملی نسخی د سلیم انسانی عقل او پوهی پر بنیاد روښانه دی.

**که څوک په افغانستان کې پایداره، عادله، او شامله سوله، استقرار او دهغه په نتیجه او پایله کې په افغانستان او سیمی کې سوکالی، پیشرفت، آرامی او ترقی غواړی نو پکار ده چې د هیواد په سیاسی ستیج کې د خلکو ریښتنی استازی حضور لرلو ته ریښتینی زمینی برابری کړای شی او  د خلکو د حاکمیت پر اصولو د نظام جوړولو اساسی پایی کیښودل شی او دی پروسی ته  صادقانه کار وشي.**

مونږ  هغه وخت کولای شو پایداری سولی ته ورسیږو چې په مشترک کور کې د مشترک ژوند پرقواعدو داسی چې ملت اصلی تصمیم نیوونکی شی، کار وکړو.

مونږ  هغه وخت پایداری سولی اواستقرار ته رسیدلای شو چې د خپلو نسخو او د هغو دتطبیق  مشروعیت دملت د موافقی په صورت کې د آزادو او شفافو ټاکنو په نتیجه کې د ښو قوانیو او نړیوالو تر څارنی لاندی  مشروع او دعملی کولو وړ  وګڼو.

مونږ هغه وخت پایداری سولی اواستقرار ته رسیدلای شو چې په دی خبره ایمان ولرو چې د ټولنی د مطرحو مسایلوپه هکله زمونږ د نسخو نه پرته د حل بلی لاری او نسخی وجود لرلای شی او لری.

مونږ هغه وخت پایداری سولی اواستقرار ته رسیدلای شو چې په لنډ مهاله نظامی برتریو او لاس ته راوړنو مغرور نه شو بلکې د دی برتریو او لاس ته راوړنو څخه په سیاسی برخو کې په کافی اندازه ګټه او کار واخلو.
مونږ هغه وخت پایداری سولی اواستقرار ته رسیدلای شو چې ملی مشروع زعامت منځ راولو او دا زعامت دافغانستان د مصالحو او منافعو داولویت پر اصولو کار د کار کولو توان او استعداد ولری او عمل وکړی. **افغانستان نړی ته دخطر ځای هم نه وی.** افغانستان د خپل موقعیت په اساس د نړی د تمدونډونو او اقتصادی همکاریو د عطف نقطه او مرکز وګرځوی. افغانستان د نړی د مختلفو تمدونونو د همکاری مرکز شی نه د تقابل او تشدد.
مونږ هغه وخت پایداری سولی اواستقرار ته رسیدلای چی د ظلم او بی عدالتی سره کلکه مبارزه، ښه قوانین تصویب او د دی قوانینو د تطبیق لپاره عملا او صادقانه کار وکړو او د قومی او قبیلوی تصفیو او بی عدالیتو مخه ونیسو، متخلفین او د قانون ماتوونکی د قانون قوی او بی رحمه منګولو ته وسپارو.
مونږ هغه وخت پایداری سولی او استقرار ته رسیدلای شوی چې عفوه او ګذشت ولرو، د تیرو تجاربو نه درس واخلو، **تیر هیر نه کړو** اما په انتقام او غچ اخیستنه خپلی اصلی برنامی او تګلاری ونه ګرځوو. پکار ده چې د عفوی او ګذشت پالیسی خپله کړو. مونږ ته په کار ده چې د دښمن لټولو په ځای ځان جمع او جوړ او او ځانته قوت ورکړو. دا ددی په مانا نه ده چې منفی نقاط او دښمن نه هم بی خبره شو او داسی ووایو چې هرڅه خیر او خیریت دی. مونږ ته په کار ده اوس او آینده زمونږ د کار مرکزی نقطه و ګرځوو. په دی برخه کې لازم او معقول اعتدال ته اړتیا شته.
په یقینی ډول ویلی شو چې اوس اوس زمونږ هیواد افغانستان او افغانی ټولنه د خپل سیاسی، اقتصادی او امنیتی وضعی په داسی پړاو کې قرار لري چې دتیرو لسو کلو په پرتله متفاوته ده.
که څه هم ډیر مسایل په شکلی او فورمال او یا هم په نامکمل و یا هم غلط ډول او مفهوم او کړنی ترسره شوی او دا کارونه د ډیرو مصارفو او ډیرو قربانیو په کیدو او لږو نتایجو په تر لاسه کیدو شوی دی اما ددی تیری شوی پروسی دالبرو لاسته راوړنو او بعضی شوی کارونه سره چې لاندی ورځنی یادونه کیږی په مبداء او بنسټ کې مخالفت نه شته. **بعضی دا اجرأت په اساس کې تأئیدوو او دهغوی د تحقق، پایداری اوریښتنی بڼی باندی ټینګار کوو.**
د دولت ایجاد او دری ګونو دولتی قواو شکلی منځ ته راتلل تأیید او ضروری کار ګڼو. دتأکید وړ ګڼو ددی دری ګونی قواو چې د مثلث په شکل او ددوی تر منځ مطلوب توازن چې د استقرار او عدالت ممد شی حتی په اوسنی اساسی قانون کې نه دی مراعات شوی. دا چې ریاستي نظام به د وخت غوښتنه وه او که نه، **خو په دی باور یو چې په افغانستان کې د صدارتی نظام په جوړیدو او عملی جوانبو باندی دبحث او عملی کیدو وخت راغلی.** د افغانستان اساسی قانون او بعضی نورو قوانینو تصویب که څه هم نیمګړی دی، د پولیسو، اردو او امنیتی اداروجوړښت، د ستری محکمی او څارنوالی او نورو عدلی او قضایی ادارو جوړښت چې په نوییمو کلو کې عملا له منځه تللی وی، د مطبوعاتو نسبی آزادی، د قانون دتطبیق وعدی او خبری او د اداری فساد د جرړو دویستلو ابتدائی هڅی او هلی ځلی هغه مسایل او مطالب دی چې د مبدی او اصولو له لحاظ د یادولو وړ او د مبدی په شکل مشترک اهداف دی چې باید د پیل په توګه ومنل شی.
په اقتصادی برخو کې د بعضی روبنایی او انفرسترکټر باندی د کارونو پیل او بعضی برخو لکه ترانسپورتی، ارتباطی، مخابراتی، خدماتی سکتور او برخه باندی په خاص ډول په خصوصی سکتور کې پراخ انکشاف.
په وطن کې په مختلفو سطحو د انتخابات او ټاکنو اجراء کیدل که څه هم په ډیرو مواردو کې تقلبی، غیر شفاف او شکلی وه الترناتیف او قایمقام نه لری.
په دی موده کې دقیقی احصائیه ګیری ونه شوی اواتباعو ته دهویت کارتونه یعنی تذکری چې په سیاسی، اقتصادی او امنیتی برخه کې ډیر مهم رول لری تهیه او توذیع نه شوی.
په تأسف سره د آزاد بازار د اقتصاد هغه بڼه چې زمونږ هیواد ته په دی وروستی لسیزه کې را ورسیده د آزاد بازار د اقتصاد هغه بڼه وه او ده چې هغه د قانون د حاکمیت نه پرته، د مافیای او انحصاری اقتصادی روابط پر اصولو ولاړ او عمل پری کیده چې په هغه کې هرڅه د عرضه او تقاضا د قانون په اساس تعینیدل او د آزاد رقابت ظرفیتونه یا وجود نه لرل او یا هم ډیر محدود ود وه. داحالت دمنلو وړ نه دی او په دی حالت کې ډیر ځلی د آزاد بازار څخه ناوړه ګټی پورته شوی. افغانستان دقانون دحاکمیت لاندی د معقولو ملی ګټو د ساتلو سره سم ، مختلط اقتصاد ته چې ریښتنی آزاد بازار ته د رسیدو وسیله شی ضرورت او اړتیا لرله اولری.
د افغانستان او پاکستان له لیاری د ترکمنستان د ګاز د لولی د تیریدلو قرارداد هند ته او د بعضی معادنو او پروژو قراردادونه او داسی نور هغه تاریخی مثبت کارونه دی چې ورځینی یادول په کار دی.
**په ډیرو موارد کې دولت په موقع لازم قانونی بسترونه ایجاد نه کړل، د ټکس اومالی دفاتر فعاله نه شول، دکنترول میکانیزم یا خو ایجاد نه شول او یا خو له سره فعال نه کړای شول. تمام شواهد داسی ښکاره کوی چې حد اقل او په ډیر ښه حالت کې افغانستان دولتی او د حاکمیت مهمو کړیو ته او مراجعو ته په ډیر ښه حالت کې ډیر غټ حق السکوتونه ورکړل شوی دی.**
کله کله د افغانستان زمامداران د کڼو او وړاندو بمباریو مخه نیونی، ترل، ویشتل او کور ورانونه او بی عزتی ، په غندلو سره ځان ته برائت ورکول غواړی. مونږ په دی باور یو چې دا غندل کفایت نه کوی. دا تراژیدی ډیر

ځلي حتی نه د اساس او مبداء په ډول مردوده او وغندل شوه بلکې ددی لپاره وغندل شوه چې ګواکی دا مرګ او ژوبلې او بی قانونی ددوی د حکومتونو د بدنامی او تنفر سبب ګرځی. په دی توګه په دی موده کې افغانی دولت د خپلو اتباعو نه دفاع و نشوه کړای. اداری او حاکمیت په دی مواردو کې لازم با کفایته، تدابیر ونشوه نیولای او عملی قانونی او سیاسی مؤثر تدابیر یی ونه نیول. د ځان او څوکی ساتلو ته د وظیفی او رسالت د اجراء پر ځای عملا برتریت ورکړ شو. **غندنه د عامو او غیر حاکمو خلکو کار کیدای شی اما د حاکمیت نه د عملی حمایی او ساتنی توقع کیږی.**

د حاکمیت مشروعیت په ډیرو موارد کې تر مبدای سوال لاندی دی او راغلی.

په یقینی ډول ویلی شم چې په تیرو لسو کلو کې د ښو اقتصادی، سیاسی او نظامی امکاناتو نه د وطن د آبادی او سوکالی او د مستقری سولی د برقرارولو لپاره په ښه، متناسبه او لازمه توګه د خلکو او سولی په ګټه کار وانه اخیستل شوه. ډیر ښه او استثنائی فرصتونه له لاسه ولاړل.

**هغه تدابیر او اجراٲت و نه نیول شول چې د هغه په پایله کې افغان ملت، دولتی اداراه او جوړ شوی پُـل او سړک، ښوونځی او روغتون خپل وګنی او دهغه خرابول د خپل کور او ملکیت خرابی وګنی.**

په تأسف سره په اقتصادی برخه کې د بهرنیو او نړیوالی ټولنې د مرستو او قرضونو د مصرفیدو او داسی ستونـزو، نیمګړتیاو او ناکامیو پـړه د افغانستان اوسنی حکومت او اداره ډیر ځلی په بهرنیو متحدنیو اچوی اوپه دی ډول هڅه کوی چې ځان ته برائت ورکړی. دا ادعا په قطعی ډول د منلو وړنه ده. داسی افاده کول چې ګواکی دولت د همغو مرستو اویا قرضونو حساب ورکوی چې یی په مستقیمه توګه ترلاسه کړی او نوری مرستی او قرضونه ګویا بهرنیانو خپله مصرف کړی او دافغانستان اوسنی اداره او حکومت یی ځواب ګو نه دی، دقیقه او مناسب خلاصون او د مسؤولیت نه ځان کاږل منطق او قوت نه لري او دقبول وړ نه دی. په دی برخه کې افغانی کنترول میکانیزمونه او لازم قانونی بسترونه او هماهنګی او دقاعدی او اصولو روښانول چې ډیر ځلی د افغانی لوری کاروه او دی، فعال نه کړای شول.

**ددی ټولو په نتیجه کې د وطن د آبادی په ځای د معینو زورمندانو، اشخاصو او افرادو او د هغوی د بهرنیو قراردادیانو جیبونه او بانکونه ډک او دوطن حالت د مصارفو، وخت او امکاناتو په تناسب اصلا ښه نه شو او دا امکانات تر ډیره حده په هدر ولاړل.**

انسانی تراژیدی، مرګ او ژوبله، کانه اورانده نظامی عملیات او بمباری، د اسلام ضد انتخاری عملیات چې د هغه په پایله کې بی ګناه انسانان شهیدان او متضرر شول د موضوع هغه نور اړخونه دی چې دنیوی او آخروی مواخذه لری او تراژیدی او غمناک داستانونه یی دبشریت په تاریخ کې دبشریت په نامه د ننګ او شرم تور داغونه ګڼل کیږی.

**د بُن بَست، بی نیتجه والی، روښانه کامیابی ته د نه رسیدو، د شک او د تردید، د ماموریت د ناکامیدو بحث او سوال مطرح دی. هغه ماموریت چې ډیر ځلی ورځنی مختلفی خواوی مختلف تعبیرونه او تفسیرونه لری.**

**ددی وضعی نړدی او لیری عاملین په داخلی کې څو چالاکه، فریب کار، او فرصت طلبه بی کفایته عناصر چې لیا تر اوسه هم د قوی، پوځی او نظامی له لیاری دافغانستان او سیمی د حل پر موضوع او لیار باندی ټینګار کوی او سیاسی حل ته په ټیټګ سترګه ګوری او یا هم د سیاسی حل ځنی په قول او عمل کې له سره انکار کوی.**

دوی لا تراوسه د دی زوړ تاریخی منطق او قوی افغانی جملې په مانا او مفهوم، صحت او ارزښت نه دی پوه شوی چې "**په زور کلي نه کیږی.**".

دوی لا د افغانی تاریخ نه عبرت نه دی اخیستی چې **دلته قدرتونه په ګونډو** شوی.

دوی لا په دی نه پوهیږی چې دا وطن ته به راتګ لږ څه آسانه وی او د خلکو نه به په راتګ کې چا پوښتنه نه وی کړی، خو په تګ کې یی دې ملت اساسی رول لره او لري به یی.

د افغانستان تاریخ د شاه شجاع ګانو تاریخ نه بلکې د قهرمان ملت تاریخ دی چې د شاه شجاع په سرنوشت یی تصمیم نیولی او عملی اقدام یی کړی.

**مونږ غواړو د ملت، د حق او عدالت ته او دخیر اهدافو ته د رسیدو په لار کې د سولی، ښه تفاهم، تعقل او تدبر، منطق ، هوښیاری او درایت لازمه لار غوره شی او پدی توګه د افغانانو او نړیوالی ټولنې د نوری تباهی او بربادی مخه ونیول شی.**

په ډیر تأسف او تأثر باید ووایم چې په تیرو کلو او خاص ډول تیرو لسو کلو کې د افغانستان په دولت کې موجود، د دولت مؤیدین اودهغوی بهرنی متحدین او مرستندویان او د افغانستان ددولت نه بهر د مسلحو مخالفینو او دهغوی د متحدینو او مرستندویان او متفکرو رهبری کوونکو حلقاتو او کړیو کې د هغوی اهداف او مقاصد چې په ظاهری باید د منطق پر بنیاد سره مشخص او هدفی صفونه او ستراتیژی مشترکی وای اما په عمل کې داسی نه وه. دوی د متحدو جبهو د لرلو سره سره مختلف اهداف مختلف اومتفاوت ستراتیژی تعقیبولی او تعقیبوی. مثلا د هغو اهدافو لپاره چې د افغانستان مجاهدینو په پاکستان کې کار کاوه د هغوی متحد یعنی د پاکستان حکومت کار نه کاوه. پاکستان خپل اهداف او مجاهدینو خپل اهداف تعقیبول. همدا حالات په نورو جوانبو کې هم وجود لره او داحالات ادامه لری. **دا حالات تر خپله حده ددی موجب شول چې نتایج هم مطلوب نه او ډیر ځلی متفاوت وی.**

ټول شواهد داسی ښکاره کوی او شته ډیر داسی موارد چې د افغانستان په قضیه کې مطرح حلقات حتی د افغانستان د خدمت ګارانو د متحدینو اهداف ، کړنلاری او ستراتیژی د افغانستان د خلکو د اهدافو، منافعو او مقاصدو سره له

سره برابری نه دی او حتی په بعضی مواردو کې دافغانستان د خلکو د اهدافو، مقاصدو او منافعو سره په تضاد کې هم دی.

**زمونږ د همسایه هیوادو حکماء لکه ایران او پاکستان** او دهغوی اصلی پالیسی جوړونکی او متفکر مغزونه او د هغوی د منطقی لوبغاړی متحدین او مخالفین لکه هند، ترکیه، منطقوی سکتاریستان او قومی متعصبین ، دمرکزی آسیا بعضی حکما، د بعضی عربی هیوادو، چین او... په سیمه او افغانستان کې د دی وضعی نه په ډیره موفقانه توګه خپلی ګټی پورته کوی او ددی ګډوډی او بی کفایته، ضعیفه زمامدارانو او په افغانستان کې ددی وضعی نه په خپل تعبیر تر یو حده خوشحاله هم دی.
**ایران** په افغانستان او عراق منطقه او سیمه کې د نړیوالی ټولنی او د هغه په سر کې د امریکی ستړی کیدل غواړی. اوسنی ایرانی حاکمیت په خپل تصور تعریف شوی او په ډیرو مواردو کې تحریف شوی آرایائی فرهنګ، کلچر او خپل مذهبی ارزښتونو په افغانستان کې په برياوو او موفقانه توګه پلی کوی.
پاکستان د پردی په ځمکه آباد شوی هیواد به پری نه ږدی د ډیورند د مصنوعی او استعمار میراثی کرښی چې د معمول خلاف ورځنی ۱۱۷ کاله تیریږی څوک ریښتنی آواز پورته کړی.
د پاکستان اصلی پالیسی سازانو په اوسنی پاکستان کې په بری او موفقیت سره په تیرو دیرشو کلو او په عمده ډول په امریکی کې د ۲۰۰۱ کال د سپتامبر د یوولسمی نیټی د تروریستی عملیاتو نه وروسته د تروریزم او اکستریمیزم تر مبارزی لاندی هر هغه آواز او غږ چې د پښتنو او بلوڅو د برحقه مطالبی او د ډیورند د تقلبی کرښی او خط نه د انکار او له منځه وړنې په لیکه کې قرار لرل او یا یی آواز پورته کاوه په پوره بی رحمی ترور او له منځه ویوړل او کار لیا په دی برخه کې په بری جریان لری. دوی وکولای شول په افغانستان کې داسی ځواکونه تقویه او وروزی چې د قومی او تبعیضی تأثیراتو او تعصب پر اساس دډیورند د خط د رسمی کیدو هڅی کوی او حتی لیا په سپین سترګی داسی عملی اقدامات کوی چې زه پور غواړم او هغه نور.
پاکستان په افغانستان کې کافی کدری او عملی امکانات لری او دافغانستان د ډیرو جهادی او مطرحو شخصیتونه او څیرو قوت، زور او عملی امکانات ورته داسی معلوم دی چې پوهیږی ددوی سره څه برخورد وکړی او څنګه ددوی په وجود کې خپل اهداف ترسره کړی.
دپاکستانی اصلی پالیسی جوړونکو په ډیرو مواردو کې د ټل لپاره د افغانستان په هکله د رسمی سیاست په څنګ خپل متوازی غیر رسمی سیاست چې یواځی او یواځی د پاکستان پرګټو تکیه لری، کار کړی او لیاتراوسه په بری سره کارکوی.
پاکستانی خرابکاره دومخه سیاسیتونه، د پردو ناجایزه مداخلی، د پردو د مصالحو او منافع ساتونکی او په افغانستان کې بی کفایته او غیر مشروع او ضعیف حاکمیتونه او یو سلسله نور عوامل ددی موجب شول چې تقریبا دوه لسیزی مخکی یعنی په نوییمو کلو کې د افغانستان اردو منحله شی. او بیا وروسته د پردو مداخلی په تیرو لسو وروستیو کلو کې پری نښودل چې په افغانستان کې قوی او په ځان متکی حاکمیت منځ ته راشی. حتی داچې د پاکستان اوسنی جمهور رئیس ښاغلی آصف علی زرداری څو میاشتی دمخه امریکی ته په خپل سفر کې ښاغلی باراک اوباما ته وړاندیزکوی چې ګواکی د افغانستان امنیتی قواوی، اردو جوړول ندی په کار او سفارښت کوی چې د ۲۰۱۴ کال نه وروسته دی د عربی او اسلامی امنیتی قواوی افغانستان ته راوستل شی. که چیری داسی امکانات او مفیدیت وجود لری نوبیا ولی ۲۰۱۴ کال و بیاولی نه همدا اوس؟ خوخبره داده چې د افغانستان په خپلو پښو دریدلی نه غواړی او نه پریږدی. په ظاهره داسی استدلال کیږی چې د افغانستان اوسنی اردو ملی نه ده او د افغانستان د ملی ترکیب مظهر انعکاس په کې نه دی مراعت شوی. داسی احتمال هم شته چې تأکید شوی وی چې دافغانستان اردو واپس د هغوکدرو او افراد نه جوړه شوی چې پخوانی شوروی اتحاد کې یې زده کړی کړی وه او هغه اردو پاکستانی حلقاتو منحله کړه او دادی بیرته د همغو کدرو په ترکیب اوسنی افغانی اردو جوړیږی. دا او داسی نور دپاکستان هغه دښمنانه هڅی دی چې د خپل سیاسی تجارت اوپه افغانستان کې د ضعیفو ادارو د ساتلو او د افغانستان د حکومت د مخالفینو د پرچون فروشی د پالیسی په ادامه په کلکه تعقیبوی او خپل ځان دهمیش لپاره نړیوالی ټولنی ته مطرح ساتي اود افغانستان د خلکو په وینو، مرګ او ژوبله خپل تجارت کوی.
**پاکستان د ډیورند د کړغیرنی کرښی همدا اوس نهایی کول غواړي.** داسی شواهد شته او مختلفی دسیسی روانی دی چې دا خط د افغانستان دپاره په همدی نامناسب وخت کې مطرح نهائی او معامله صورت وموی. داسی اټکل کیږی چې د هغی خاینانه پلان د عملی کیدو په صورت کې به پاکستان په خپل لاس د افغانستان د اوسنی حاکمیت ضد مسلح ځواکونه افغانی جانب ته تسلیموی اویا له منځه وړی او د افغانستان جانب نه به په افغانستان کې حتی د داخلی معینو متعصبو قوم پرستو، سکتارستانو او حتی د افغانستان د اوسنی پارلمان ته دتقلبی ټاکنو په نتیجه کې راوستل شوو حلقاتو په موافقی د ډیورند د کرغیرنه کرښی د نهائی کیدو معامله او خیانت کولو پلان عملی کیدلو باندی به توافق او معامله صورت نیسی. په دی برخه کې به دافغانستان په اداری باندی د مؤثرو بهرنیو سیاستوالو اوحاکمانو فشار راشی چې دی تاریخی خاینی معاملی ته افغانی لوری حاضر او مجبور کړی.
**افغانان په دی باور دی چې په ډانګ اوبه نه بیلیږی. د ډیورند کرښه تقلبی کرښه ده. دا کرښه زمونږ د کور په منځ کې د استعمار په زور رسم شوی کرښه ده. ددی کرښی په هکله بحث او حتی ریفراندوم او داسی نورو خبرو او بحث ګنجایش نه شته. په تاریخی، ملی او قومی لحاظه د آباسین نه تر اټکه په واقعیت کې د افغانستان جزء**

**او یو هیواد وه او دی. په دی برخه کې دهرډول مجبوریتونو او معاملو په اساس او بیا د غیر مشروع منابعو او مراجعو خیانتی معاملی به د منلو وړ نه وی او نه دی. دافغانستان داپارلمان او دولت دداسی معاملی صلاحیت هم نه لری.**

که مونږ د نامناسبو شرایطو له کبله غلی پاتی شو نو نور د بنو مقاصدو اویا هم د ناولو مقاصدو په لرلو غلی نه پاتی کیږی. افغانانو ته په کار ده چې حتی د هر چا له خوا فعال شوو پروژو په صورت کې هم په فعال سیاست دداسی دسایسو مخه ونیسی او اجازه ورنکړی چې شوم پلانونه د افغانستان د خواستو او حق په ضد عملی شی. پدی برخه کې به درسته لیاره به دا وی چې په موقع کاږه حرکات اوپه عمل کې خاین حلقات او یا پلورل شوی تصامیم ملت ته افشا، تجرید او داسی دسایسو ته ملت بیدار او بسیج کړای شي. په دی برخه کې د هرچا لیکنه، کړنه او عمل باید اصلی معیار وی. حوادث زمونږ له خواست نه بهر جریان لری او مونږ یی په مقابل کې د دریدو په سیاسیت او کړنلاری باید مخه ونیسو. ددی حوادثو په نه لیدلو یواځی ځان غولوو. غیر فعال برخورد زمونږ او ددی داعی په ګټه نه دی.

که چیری پاکستان دا پتیلی وی چې په پښتونستان او بلوچستان کې یې ملی ځواکونه د تروریزم تربهانی لاندی په پوره توګه ځپلی او یو عده نور بیا د پاکستان سره یوځای ژوند کول غواړی، نو په کار ده چې وویل شی. اول به داخبره را سره ومنی چې دډیورند کرښه له سره او اساسه اعتبار نه لرله او نه لری. بیا که اوس ځوک غواړی جدا شی اویا د پاکستان اویا د کوم بل هیواد سره یو ځای شی او یا هلته ژوند وکړی چې مطرح کیدای شی. نو ورته ویل په کار دی **چې لمړی بحث نهایی کړو هغه داچې د ډیورند کرښه غیر مشروع او د اعتبار وړ کرښه نه ده.** بیا که ځوک دا وطن تجزیه کوی او نور پلانونه دی نو دا بحث به هم سره جدا وکړو چې ځوک چیری او د چا سره ژوند کول غواړی.

دبلی خوا زمونږ په منځ کې د نفاق او شقاق د شته والی او همدارنګه د مشترکاتو د شته والی په نظر کې نیولو سره دا هم د منلو وړ ده چې دوه اویا دری د حرکت، فشار او مشترک هدف متوازی مراکز جوړ او دمتحد هدف لپاره د مختلفو زوایاو او امکانات څخه په پوره آماده ګی کار صورت ومومی. خو غیر فعال پاتی کیدل د منلو وړ نه ده بلکی بده پایله به ولري.

د هند زمامداران د پاکستان ځواکونه او مربوط ستراتیژیکی متحدین اوپه پاکستان کې بعضی دینی ډلی د افغانستان په مورد کې د هغوی فعال مصروفیت او په دی ډول د کشمیر دمسألی او هند نه په اساسی ډول لیری پاتی کیدنه دځان په ګټه بولی. دوی دی هدف ته په تیر نیم قرن کې په هندی هوښیاری کار کړی او کوی.

د بعضی عربی هیوادو حاکمان په افغانستان او سیمه کې د دوی دینی سیاسی ځواکونو مصروفیدل چې دعربی هیوادو اتباع هم دی او په افغانسنان کې د جهاد دکار زار متفکر مغزونه تشکیلوی او په دی توګه په دی سیمه کې حضور او مصروف دی د ځان په ګټه تعبیروی او ګڼی. په دی توګه دا ځواکونه د افغانستان مسألی ته لمړیتوب ورکوی او د فلسطین او عربی اسلامی هیوادو حاکمیتونو ورځینی په امان پاتی کیږی اویا هغه مسایل ورته په وروستی اویاهم دوم پړاو کې مطرح او یا هم هغوی ته اصلا وخت نه پاتی کیږی.

چین او روسیه د خپل با عظمته تاریخ په رڼا کې د منطقی او نړی قدرتونه دی اود سیاسي او نظامي ابرقدرت کیدو په لار روان دی. اما په دی هیوادو کې هر ډول حاکمیتونه چې وجود ولری اویا منځ ته راشی په سیمه او نړی کې خپل سیاسی او اقتصادی او حتی پوځی ګټی خوندی ساتل غواړی. دوی د امریکی د موفقیت څخه چې په سیمه کې د اسلامی ځواکونو مخی ته خنډ شی او نسبی ډول ددوی په هیوادو کې د مشابه حرکاتو د بی رحمانه ټکولو لپاره زمینی برابری شی هرکلی او مرستی کوی. امادوی په افغانستان او سیمه کې د امریکی په داسی بري چې په سیمه کې د امریکی د اوږدمهاله پوځی اډو دشتون او بقاء سبب وګرځي، نه شی زغملی. په دی هدف کې د ایران حاکمان هم د چین او روسی سره مشترکات لری.

همدا اوس اوس په افغانستان کې د امریکی او ناتو د ۴۷ هیوادو ۱۴۰ زره عسکر په افغانستان کې حضور لري.
له دی جملی څخه د امریکی د متحدو ایالات تقریبا ۱۰۰ زره پوځی ځواکونه او باقی د نورو هیوادو پوځیان دی.
شرایط داسی راغلی چې نـــاتو او امریکا غواړی تر ۲۰۱۴ کاله پوری افغانی ځواکونو ته تمام امنیتی وظایف او مسؤولیتونه انتقال کړي. همدا سږ کال د جولای په میاشتی کې به دا د انتقال پروسه پیل کیږي. د ناتو مشر ښاغلی راسموسن د ناتو د متحدینو نه افغانستان د دوامدار حمایت اعلان او سفارښت کوی او کړی.

د انګستان او جرمنی هیوادو تعهد کړی دی چې په افغانستان کې به د ۲۰۱۴ کال نه وروسته هم حضور ولری اوددی کال نه وروسته به د افغانی امنیتی قواوو او اوپولیسو د تربیی او روزنی لپاره په افغانستان کې نظامی حضور ولري.

په مجموعی لحاظ ویلای شو چې هغه هیوادونه چې په افغانستان کې اوس اوس نظامی رسمی حضور لری په عمده توګه په افغانستان کې د امریکی دمتحدو ایالاتو پالیسی تعقیبوی او بعضی یې د ځانه په افغانستان کې کوم مشخصه ځانګړی ستراتیژی او پلان نه لری.

د لمړی برخی پای